مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شیر محمد امیني ستانکزی ۲۰۱۸/۱۱/۱۹

# هغه څه چې موږ یې په لټه کې یو؛ خوموندلای یې نشو!؟؟

افغانان د څه باندې څلويښتو کالونو د هغه څه په لټه کې دي، چې ترنن ورځ يې د موندلو درک يې پیدانه کړل، ځانونه يې ستړي کړل، ناري يې ووهلې او تر دمګړی ناری وهي، خو نه يې چا غږ واوريدل او نه څوک شته چې د دې مظلوم ملت په غم کې واوسي.
هیوادوال د دو لومو په منځ کې بند پاتي شوي، چې که چیرته له يوې لومې خلاصی پیداکړي، نو دويمه لومه دهغوی په پښو نښلي، داهغه لومې دي، چې دواړه سره په تضاد کې واقع شوي، يوه يې داسې ځانګړنه لري، چې کله په هغه کې دسړي پښه بنده پاتې شي، نو دنیکبختي او بریالیتوب سبب د دوی په برخه کیږي اوکه په بله لومه کې سړي ونښت؛ د ژوند ټولې نیکبختي او کامیابي له منځه وړي، تل به په ویره کې ځان احساسوي.
د افغان غیرتي ولس او میشت قومونه په دې ۴۰ کالونو کې د هغه لومې چې افغانان يې تل ربړولي او ځورولي دي، د دې لامل پیدا نشو کړای، چې څنګه له د بدبختي لومې نه خلاصون پیداکړي، څنګه نور د دې لومې په وړاندې هغه لومه ته لاره هواره کړي، چې نور دافغان ولس د خوشحالی ژوند يې په نصیب شي، يوبل سره په خلاصه غيږه او دوروړګلوي په فضاکې ژوند وکړي.
دلته د سولې او جګړې هغه دوه متضادی کلمې يادونه کوو، چې موږ افغان ولس د دغو دو کلیمو سره دومره زیاته اشنايي لرو، چې هره ګړی پخپله او يا د نورو خلکو له خولې څخه آورو.
په لومړي کې جګړه ياده ؤ، بيا د سولې ناري وهو، ښه وينو چې ولس د تباهي په لور روان دی، څوک نشته چې د دوی غمخوري شي، دوی ته د حل لاري او چاري ولټوي او د نيکمرغی ژوند زموږ د افغانانو په برخه کړي، خو د افسوس ځای دی، چې نن د بدبختي په لومه کې راګیر شوي يو، دا د هغو غلیمانو او د هیواد د خاوري تباه کوونکي دښمنانو دسیسې او زموږ د وطن د ويجاړولو د پروژو طراحانو او ډيزاينرانو پلانونه دي، چې تر نن ورځې د دغو بې غیرتو او بې ننګو په اسارت کې زموږ هیواد بند پاتې دی.
څنګه کولای شو، چې د دغې لوبې څخه چې پرموږ له بهره پلان شوې ، د خلاصون لار ومومو او خپلو اهدافو ته، چې د سولې ناري وهو اود سولې کيلی پيداکړو. ترڅو پخپلو کې يو داسې يووالي رامنځته شي، چې نور بهرني او ګاونډي هیوادونه پر موږ لوړې چوړی ونکړي اويوبل سره مومات نکړي.
دولت ته لازم ګڼو چې په د ننه د حکومت په نظام کې مفسد او د بهرنيو هیوادونو اجينټان ليري کړي، ترڅو د حکومت منځي رازونه په ډاګه نشي .
اداري فساد هم د دې لامل کيږي، چې په هیواد کې نا امنی ورځې تربلې زیاتیږي؛ خو که د اداري فساد ريښې د هغو لوړ پوړو چارواکي په فساد ککړ وي، نو د دولت ټيټ رتبه وو مامورينو ته هم سرايت کوي، چې هريو بيا د قانون ترسيوري لاندې قانون ماتوونکي وي، پروا د کارهم نه کوي او همدارنګه خپلسري کارونه هم د دوی څخه سر وهي.
د دولت له نوم نه ناوړه ګټه پورته کوي، چې کيدای شي همدوی د سرکوونو په سر لوټماريو ته هم لاس ورته کړي او بيا په ډلو او باندې باندې ويشل کيږي، چې ورروسته بيا د حکومت زور هم پرنشي برکيدای.
نن ورځ ټول افغانان د جنګ پرضد ناري کوي، وايي چې ورک دی شي جنګونه، مړه دوي جنګونه او داسې ورته نور شعارونه ورکوي او د سولې او امنيت غوښتنه له حکومتي چارواکوڅخه کوي.
خو د دولت سره هم داسې لازم تدابير نشته چې سوله په هیوادکې ډاډمنه کړي او يا هغه هیوادونه چې په افغانستان کې د جنګ او جګړو لاس لري، غاښ ماتونکی ځواب ورکړي او يا دا چې د دوی د لاس و هنو او جګړو مخه ونيسي .
دولت هم تش دسولې شورا په نوم رياست جوړکړی، نو دسولې رياست ته څه اړتيا بريښي ولې د جنګ يو لوی رياست بايد په هیواد کې جوړ واي، ځکه چې دې رياست دومره کولای شول، چې د هیواد څخه د فاع وکړی، د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

هیواد د خاورې دښمنان پرشاه وتمبوي. اوس باید دولت ولس ته د سولې شورا ریاست د سولې راوستو او لاسته راوړنو ارقام په ګوته کړي .
خو یواځې دولت د سولې په راوستو او ټینګولو کې اړ و نه بولو؛ دلته ولس هم باید دولت سره همکار پاتې شي، ولس باید خپلې غوښتنې دخپل ریښتینې استازې په ټاکلو کې ترلاسه او داستازې په غوراوي کې له پوهې کار واخلي، تر څو استازی دولس غږ تر لوړ پوړو چاروکو پورې ورسوي.
اوس مهال افغانان سولې پسې لالهانده ګرځي، ولې دسولې کیلی له حکومت څخه ورکه او په لټه کې یې افغان ولس دي . دافغان ملت واویلاوې نن چاته ورسو،کوم هیواد به نن دافغانانو د مات شوي لاس؛ لاسنیوی وکړي، ددریمګړي په صفت دافغانستان په اوسنې حالاتو د راز پرده پورته او حقیقت ووایي.
دهغو هیوادونو مخنیوی وکړي، چې نن د افغانستان په ویجاړولو کې لاس لري اودسولې په لاره کې سترخنډ یې رامنځ ته کړی دی او کوي یې.
نه؛هیڅکله به داسې هیوادپیدانشي، چې دافغان مظلوم ولس غږ واوري او په غم کې سره غمرازي وکړي.ددې لپاره باید افغان میرنی ملت په خپلوکې سره کښیني، دقدرت دلاسته راوړو په فکرکې نه؛ بلکې دهیواد میشته قومونود یوموټې کیدوپلان جوړ او ټول سره په یوګردي میزراټول او دبهرنیو هیوادونودسیسې او پلانونه شنډ کړواو نوربیاهغه وخت افغانان دسولې څښتنان کیږي، چې کلونه ـ کلونه دسولې په لاره کې سترې مبارزې کړي او ځانونه یې قرباني کړي دي .
په هیوادکې دتل پاتې او دایمنې سولې په هیله!


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ